شاغلي Dijon DaCosta, Sr.، د بورډ مشر
مېرمن Deirdre P. Pierce، مرستیاله رییسه
مېرمن Anna Hill
آغلې Whitney McGinniss
آغلې Allyson Gevertz
مېرمن Vickie B. Turner
Dr. Joyce Morley

DeKalb County School District

Dr. Devon Q. Horton، رییس

**په سمدستي توګه اعلانولو لپاره**

10 اکتوبر 2023

**اړیکه:**
Donald Porter, *Ed.D.* 678-481-4110
Carla Parker 404-734-1717

## د DeKalb کاونټي ښوونځي د ځلور کلن فراغت کچه یو څه راکمیږي

*د معیوبو زده کوونکو فرعي ګروپ د پرله پسې پنځم کال لپاره کچه لوړوي*

(STONE MOUNTAIN, GA) د جورجیا د پوهنې ریاست د معلوماتو پراساس چې نن خپاره شو د DeKalb کاونټي ښوونځي د ولسوالۍ (*DCSD*) ځلور کلن فراغت کچه د 2023 کال ټولګي لپاره 75.77٪ ده. د فراغت ټولیيزه کچه د تیر کال په پرتله 0.42٪ کمه شوې. د مقایسې له مخې د Georgia ایالت د فراغت کچې د 0.3٪ زیاتوالي سره یو څه زیاتوالی درلود چې له 84.06٪ څخه 84.36٪ ته لوړه شوې وه.

د وبا د پیل پرمهال د2023کال د زده کوونکو د فراغت دله د نهم ټولګي زده کوونکي وو. رییس Dr. Devon Q. Horton وویل چې د ښوونځیو د تړلو له ګډوډۍ، د جبري مجازي زده کړو او د یو نوي ښوونځي د چاپېریال عیارولو سربیره زه یواځې د خپل ځلور کلن فراغت په کچه کې د یو څه کمښت لیدلو توان لرم. زه له خپلو ښوونکو، مشرانو او د ښوونځي له کارمندانو څخه مننه کوم چې د یو څو ستونزمن کلونو د ګاللو وروسته دوي زموږ د زده کوونکو او د هغوې د ټولنو د ملاتړ لپاره خپلې هڅې یو کړې.

د 2023 ښوونیز کال د معیوبو زده کوونکو فرعي ګروپ لپاره د پنځمي کلنۍ پرله پسې لاسته راوړنه په ګوته کوي. په تېرو شپږو (6) کلونو کې دغه کچه 18.38% لوړه شوې ده.

| 2023 | 2022 | 2021 | 2020 | 2019 | 2018 |
|---|---|---|---|---|---|
| 62.63% | 60.30% | 57.80% | 54.56% | 46.48% | 44.25% |

د ښوونځي تر ټولو د پام وړ لاسته راوړني پهTapestry Public Charter  ښوونځي کې رامنځته شوې چې د 12٪ په پرتله دوه ګونه لوړوالی څرګندوي کومه چې د 93.75٪ ځلور کلن فراغت د کچې پایله ده.

ځلورو (4) عالي ښوونځیو په تیر ټول ښوونیز کال کې د 4٪ په پرتله ډیرې لاسته راوړنې ښودلې:

- DeKalb Alternative عالي ښوونځي (+5.41%) – *د پرله پسې دوهم کال لپاره*
- Tucker عالي ښوونځی (+4.81%)
- Martin Luther King, Jr. عالي ښوونځی (+4.66%)
- Elizabeth Andrews عالي ښوونځی (+4.38%)

د 2023 کال پرمهال Martin Luther King, Jr او Tucker عالي ښوونځیو د تیرو شپږو (6) کلونو په اوږدو کې پرله پسې د 80.06٪ او 84.81٪ درجو په ترلاسه کولو سره د خپل ځلور کلنۍ د فراغت تر ټولو لوړې کچې ترلاسه کړې.

- نور -

په لاندې اوو (7) عالي ښوونځيو کې د فراغت د کچې اضافي لوړوالي ليدل شوي دی:

- Southwest DeKalb عالي ښوونځی (+2.89%)
- Stone Mountain عالي ښوونځی (+2.46%)
- Towers عالي ښوونځی (+1.89%)
- Stephenson عالي ښوونځی (+1.47%)
- د DeKalb د هنرونو ښوونځی (+1.30%)
- Cross Keys عالي ښوونځی (+1.29%)
- Redan عالي ښوونځی (+1.25%)

د DeKalb Early College اکاډمی (پرله پسې دوهم کال لپاره) او د DeKalb د هنرونو ښوونځي په نوم د DCSD دوه (2) عالي ښوونځيو د فراغت 100٪ بشپړه کچه لاس ته راوړې. سربېره پردې، دغو دوو ښوونځيو او دArabia Mountain عالي ښوونځي د شپږم پرله پسې کال لپاره د فراغت کچې له 95 سلنې څخه پورته لاس ته راوړي دي.

له پنځه ويشتو (25) هغو ښوونځيو څخه چې د 4 کلن فراغت کچه يې لاس ته راوړې ديارلس (13) ښوونځيو د تير کال (52%) په پرتله د خپلو کچو اندازه برقرار ساتلي او يا يې لوړه کړې. Dr. Horton وويل که څه هم موږ کولی شو چې د دغو ښوونځيوو جشن د لاسته راوړنو سره ولمانځو موږ دا اعتراف کوو چې زموږ زيات ښوونځي د فراغت کچه له 90٪ څخه کمه لري.

موږ بايد د خپل اوږد مهاله ګروپ د تبديلی د قوانينو، د فراغت ګروپ د عملي کړنلارو، د عادي تعليمي طرحو او د زده کوونکو د تعليمي مرستو ژور تحليل بشپړ کړو ترڅو په اوسنيو کړنو کې د بدلون رامنځته کولو لپاره خپل راتلونکي ګامونه وټاکو او په ولسوالۍ او ښوونځي کې د خپل فراغت کچې لوړې کړو.

XXX

Robert R. Freeman Administrative Complex
1701 Mountain Industrial Blvd. | Stone Mountain, GA 30083
678.676.1200 | www.dekalbschoolsga.org